د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

۹۳ مه گڼه • پنجشنبه • د زمری ۱۷مه • ۱۳۹۸



۷

# په بلخ کې د ۱۳.۷ کیلو متره سرک د پخولو چارې ( څلورپروژې)



۳

په غور ولایت کې د ۳۷ پروژو بشپړتیا او د ۱٤۱ میلونو افغانیو په ارزښت د ۵۹ پروژو د کار پیل



٤

په چپرهار ولسوالۍ کې د نږدې ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت د دریو لومړنیو ښوونځیو جوړولو چارې پیل شوې

# په ۱۳ ولایتونو کې د لمریزې بریښنا د ویش لپاره د ۳۸٤۱۷۹ کورنیو سروې

۱۳/ زمري ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د تلپاتې انرژۍ پروګرام د ۱۳ ولایتونو( هرات، کندهار، هلمند، زابل، نیمروز، فراه، خوست، پکتیا، پکتیکا، لوګر، ننګرهار، کونړ، او نورستان) په ۵۵ سرحدي ولسوالیو کې د لمریزې بریښنا د اړوندو توکیو د ویش په موخه د ۳۸٤۱۷۹ کورنیو سروې بشپړه کړه په پام کې ده چې په ټوله کې د ۱۳ ولایتونو په سرحدي سیمو کې ۵۳۱۰۲۲ کورنیو ته د لمریزې بریښنا اړوند توکي وویشل شي، چې د سروې په بشپړتیا سره به یې کور په کور د بریښنایزو توکیو ویشل هم پیل شي.





# په غور ولایت کې د ۳۷ پروژو بشپړتیا او د ۱٤۱ میلونو افغانیو په ارزښت د ٥۹ پروژو د کار پیل

۱۳/ زمري/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام له خوا د غور ولایت د لعل او سرجنګل په ولسوالۍ کې د ۳۸ میلیونو افغانیو په ارزښت ۳۷ پروژې بشپړې شوې او په همدغه ولسوالۍ کې د ۱۰۳ میلیونو افغانیو په ارزښت د ٥۹ نورو پروژو کار پیل شو. په بشپړو شویو پروژو کې د اوبو رسونې شبکې، لمریزه بریښنا، د اوبو لګولو کانالونه، استنادي دیوالونه او د کرنیزو مځکو د خړوبولو شبکې شاملې دي، ددغو پروژو د کار په اوږدو کې ۷۹٥٤۳ کاري ورځې ایجاد شوې او د پروژو تر بشپړتیا وروسته به ۸۷۱٤ کورنۍ د هغو له ګټو برخمنې شي.

# په چپرهار ولسوالۍ کې د نږدې ۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت د دریو لومړنیو ښوونځیو جوړولو چارې پیل شوې

۱۳۹۸/زمري/۱۳

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د اقرا پروژې له لوري د ننګرهار ولایت په چپرهار ولسوالۍ کې د نږدې ۱۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۳ لومړنیو ښوونځیو جوړولو چارې پیل شوې، ټاکل شوې چې دا پروژه په ۳ میاشتو کې په ۵ جریبه ځمکه کې بشپړه شي.

دغه ښوونځي چې په یو، یو پوړ کې جوړیږي هر یو به یې شپږ، شپږ درسي او اداري خونې، اته، اته تشنابونه د اوبو ځاګانې، احاطې او نور ملحقات ولري.





# د مرکزي زون د ولسواليو د کليوالي اقتصاد د پرمختيا ملي پروګرام همغږو کونکو ته څلور ورځني ښوونيز ورکشاپ جوړ شو

۱۲/ زمري/ ۱۳۹۸

د د کليو د بيا رغونې او پرمختيا وزارت د کليوالي اقتصاد د پرمختيا ملي پروګرام WEERDP هغو کارکونکو لپاره چې د کابل، پنجشير، کاپيسا او پروان ولايتونو په ولسواليو کې د پروګرامونو د همغږه کولو دنده پر غاړه لري، د تدارکاتو، مالي او اړيکو په برخو کې ورته يو څلور ورځني ښوونيز ورکشاپ پيل شو. ګډونوال له يادو ولايتونو د اړينو مهارتونو د زده کړې لپاره د پروګرام مرکز ياني کابل دفتر ته راغلل. په لومړۍ ورځ د کليوالي اقتصاد د پرمختيا د ملي پروګرام عملياتي مشر محمد وحيد ابراهيم زاده ددغو کارکونکو ددندو پر مهيمو برخو رڼا واچوله، او ټينګاريې وکړ چې په ټاکلو ولسواليو کې دا پروګرامونه په ښه ډول پلي کړي.

ورکشاپ د زمري مياشتې پر ۱۲مه نيټه پيل شو چې د همدې مياشتې تر ۱۵مې نيټې به روان پاتې پاتې شي .



# په میدان وردګ ولایت کې ۲۰۰ کوچي کورنیو ته د څښاک اوبو چمتو کول

۱٤/زمري / ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د اوبو رسولو ملي پروګرام د میدان وردګ ولایت د تنګي په تیتمور او د نرخ ولسوالۍ په اول خیلو او سرکۍ کلیو کې کوچیانو ته۱۱ داسې څاه ګانې و ایستلې چې لاسي بمبې هم پرې لګیدلې دي

دا پروژه داسې مهال بشپړه شوه چې په ترڅ کې یې ۲٤۰ فني او ٤٦۸ نافني کارګرو ته ۲۰٤ کاري ورځې رامنځ ته شوې وې، د کار په بشپړتیا سره د کوچیانو ۲۰۰ کورنیو د څښاک پاکو او صحي اوبو ته لاس رسي پیدا کړ.



# په بلخ کې د ۱۳.۷ کیلو متره سرک د پخولو چارې ( ځلورپروژې)

۱۳/ زمري/ ۱۳۹۸

۱- د بلخ ولایت د مزار شریف له یولمرب څخه د دشت شادیان په سویل کې تر شهرک علیا پورې ۳.۲۲ کیلو متره سرک پوخ کړل شو د اوبو ایستلو سیستمونه یې ورغول شول او ګټې اخستنې ته وسپارل شو دا پروژه د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا وزارت د کلیوالي سیمو د لار جوړونې د ملي پروګرام له خوا تر سره شوه چې د یاد وزارت د پروګرامونو د معین محمد عیسی قدرت او د بلخ د والي محمد اسحق رهګزر له خوا یې پرانسته وشوه.

۲- د یولمرب له سرکه د مزار شریف د ښار ددشت شادیان په سویل کې د بابا علي شیر تر کارتې پورې د ۲.۰٤ کیلومتره سرک پخول ( قیرکول) او د سرک د اوبو ایستلو جوړښتونه جوړول بشپړ

شـول دا پـروژه هـم ګټـې اخسـتنې ته وسـپارل شـوه.
۳- د مـزار شـریف ښارددشـت شـادیان سـویل لـوري تـه د یولمـرب لـه سـرکه د شـیخ حسـن غمګیـن تـر سـرکه ۱.۹٤ کیلـو متـره سـرک پـوخ (قیـر) شـو او د اوبـو ایسـتلو جوړښـتونه یـې ورغـول شـول، دا پـروژه هـم ګټـې اخسـتنې تـه وسـپارل شـوه.
٤- د بلـخ ولایـت د نهـر شـاهي ولسـوالۍ پـه علـي ابـاد او کمـپ سـخي کـې د ٦.٥ کیومتـره سـرک د پخولـو (قیـر کولـو) کار هـم پیـل شـو چـې پـه تـرڅ کـې بـه یـې د اوبـو ایسـتلو د جوړښـتونو تـر څنـګ ۱۰ متـره اوسـپنیز او کانکریتـي پـل هـم جـوړ شـي.
دا سـرکونه بـه ۲۳ کلـي یـو لـه بل سـره وتـړي او نـږدې ۲۳ زره وګـړي بـه د لومړنیـو خدمتونـو مرکزونو تـه لاره پیـدا کـړي. ددې پـروژو چـارو ۲۱ زره کاري ورځـې ایجـاد کړې دي.
د کلیوالـي سـیمو د لارجوړونـې ملـي پروګـرام تـر دې مهالـه پـه بلـخ ولایـت کـې ۲۱۸ کیلومتـره سـړک رغولـي او ۱۱۰ متـره پلونـه یـې جـوړ کـړي او ګټـې اخسـتنې تـه یـې سـپارلي دي.

